د ستراتيژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

تحلیل هفته

**ګڼه: 426**

(16 مرغومی – 22 مرغومی 1402 هـ ش)

# د ۲۰۲۳ز. کال مهمې سياسي پېښې او پر نړيوال نظم يې اغيزې



دا نشريه د افغانستان او سيمې د مهمو سياسي، امنيتي، اقتصادي او ټولنيزو پېښو د تحليل اوونيزه خپرونه ده چې د ستراتيژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګليسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:


- د ۲۰۲۳ز. کال مهمې سیاسي پېښې او پر نړیوال نظم یې اغیزې ........................................ 3
- پر اوکراین د روسیې د بریدونو دوام ................................................................... 3
- د چین او امریکا متحده ایالاتو د سیالۍ دوام ........................................................ 4
- د اسراییلو او حماس جګړه ............................................................................ 6
- د اذربایجان له لوري د ناګورنو قره باغ نیول.......................................................... 7
- د بشري حقوقو نقض .................................................................................. 8
- د پاکستان له لوري د افغان کډوالو په زوره ویستل................................................... 8
- د ملګرو ملتونو ناکامي ................................................................................ 9
- پایله ..................................................................................................... 10
- وړاندیزونه .............................................................................................. 10
- مأخذونه................................................................................................... 11


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

# د ۲۰۲۳ز. کال مهمې سیاسي پېښې او پر نړیوال نظم یې اغیزې

**سریزه**

لکه څنګه چې د یو قلمرو په داخل کې د انسانانو د نظم لپاره یو سیاسي نظام موجود دی، همدې ته ورته په نړیواله سطحه هم بین المللي نظام موجود دی، توپیر یې په دې کې دی چې نړیوال نظام د دولتونو له خوا رهبري کېږي او داخلي نظام د اشخاصو له خوا. تر اوسه نړۍ درې ډوله بین المللي نظامونه تجربه کړي دي، لومړی، له ۱۸۱۴ز. کال څخه تر ۱۹۱۴ز. کال پورې چې دې ته څو قطبي بین المللي نظام ویل کېږي چې د روسیې، اتریش، المان، فرانسې او انګلستان له خوا رهبري کېده. دویم، دوه قطبي بین المللي نظام دی چې له دویمې نړیوالې جګړې وروسته د شوروي اتحاد او امریکا متحده ایالاتو له لوري رهبري کېده او دریم، یو قطبي بین المللي نظام دی چې له ۱۹۹۱ز. کال څخه تر نن ورځې پورې د امریکا متحده ایالاتو له لوري رهبري کېږي.

د اوسني بین المللي نظام په اړه د څېړونکو ترمنځ اختلاف دی، ځینې یې څو قطبي ګڼي چې لوی قدرتمند هېوادونه لکه چین او روسیه په نوي بین المللي نظام کې مهم شریکوال دي او ځینې یې لا هم یو قطبي ګڼي، خو دا خبره یقیني ده چې له ۲۰۲۰ز. کال راهیسې نړیوال نظام د بدلون په حال کې دی او د یو نوي نړیوال نظام پر لور روان دی.

۲۰۲۳ز. کال پای ته ورسېده او دې کال کې هم ځینې داسې مهمې پېښې ترسره شوې چې د امریکا متحده ایالاتو تر مشرۍ لاندې یو قطبي نظام یې ننګولی او پر دې نظام یې اغیزې ښېندلې دي.

په ۲۰۲۳ز. کال کې پر اوکراین د روسیې برید دوام وموند، د چین او امریکا متحده ایالاتو ترمنځ سیالۍ لا هم پراخې شوې، پر اسراییلو د حماس د برید له امله د منځنۍ ختیځ په جیوپولټیک کې لوی بدلون رامنځته شو، په قفقاز کې اذربایجان د ارمنستان پر وړاندې بریا ترلاسه کړه، په لوړه کچه بشري حقوق نقض شول، د ملګرو ملتونو او بین المللي حقوقو ناکامۍ راڅرګندې شوې، اقتصادي بحرانونه رامنځته شول او داسې نور... چې په دې لیکنه کې به پرې بحث وکړو.

## پر اوکراین د روسیې د بریدونو دوام

پر اوکراین د روسیې بریدونو په ۲۰۲۳ز. کال کې هم ادامه پیداکړه او دې جګړې پر نړیوال نظام بېلابېلې اغېزې وکړې. دې جګړې د لویو قدرتونو ترمنځ سیالۍ ته لاره پرانېسته او د وسلو د کنټرول لپاره چې د بین المللي حقوقو په چوکاټ کې کومې هڅې روانې وې هغه نه یوازې په ټپه ودرېدې بلکې د وسلو سیالۍ لا پراختیا پیداکړه. چین، روسیې، امریکا متحده ایالاتو، انګلستان او فرانسې له یوې خوا خپلې وسلې زیاتې



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

کړې او له بلې خوا یې د اتومي وسلو د عصري کولو او ټکنالوژیکي وسلو جوړولو ته لا پاملرنه زیاته کړه[1] د سټاکهولم د سولې د نړیوال څېړنيز انسټيټوټ د راپور پر بنسټ چین په دې کال کې ۳۰۰ نوي مزایل او شمالي کوریا ۲۰اتومي سرګوللې جوړې کړې دي. د نړیوالې اتومي انرژۍ اداري د راپور پر بنسټ ایران د یوارنیمو د غني کېدو چارې چټکې کړې دي. د وسلو دا سیالي چې د اوکراین جګړه یې هم یو لامل دی، نړیوال امنیت ته به لوی ګواښ رامنځته کړي چې دا خپله د نړیوال نظام پر بې ثباتۍ او د امریکا متحده ایالاتو د مطلقې واکمنۍ د لمنځه وړلو پیلامه کېدلای شي.

په ۲۰۲۳ز. کال کې د اوکراین د جګړې بله اغیزه دا وه چې د ناټو رول یې پیاوړی کړ. د ناټو غړي هېوادونو دا درک کړه چې د ځان څخه د دفاع په موخه ناټو ښه اپشن دی او له همدې امله سویډن او فنلینډ هم ناټو کې د غړیتوب غوښتنه وکړه، چې د فنلینډ د غړیتوب پروسه تکمیل او د اپریل پر ۴مه نېټه د ناټو غړی شو.[2] د دې ترڅنګ بوسنیا، جورجیا او اوکراین هم په ناټو کې د غړیتوب لېوالتیا ښودلې ده.[3] ناټو په ۲۰۲۳ز. کال کې په کلکه د اوکراین ملاتړ وکړ، خو په دې ونه توانېده چې روسیې ناکامه کړي. همدارنګه د ناټو دا پراختیا هم کېدلای شي په شرق کې د یو بل امنیتي بلاک رامنځته کېدلو ته زمینه برابره کړي چې دا به بیا د نړیوال نظام د بدلون تر ټولو مهم لامل وي.

## د چین او امریکا متحده ایالاتو د سیالۍ دوام

کله چې د ملي امنیت او اقتصادي سیالۍ خبره راشي، نو چین او امریکا متحده ایالات په دې برخه کې د یو بل قوي سیالان بلل کېږي. امریکایي مشران چین د خپل راتلونکي نظم لپاره لوی ننګونکی هېواد ګڼي.[4]

دواړه د نړۍ لومړی او دویم اقتصادي قدرتونه دي چې په ګډه د نړۍ ۴۰ سلنه اقتصاد جوړوي. دواړه هېوادونه خپلمنځي اقتصادي اړیکې هم لري. له یو او بل څخه توکي اخلي، د یو او بل سوداګریز شرکتونه تمویلوي، د اپلیکشینونو او فلمونو په جوړولو کې همکاري لري، خو له دې سره هم کله چې خبره د نړۍ د مشرۍ راځي بیا امریکا متحده ایالاتو ته د چین چټک اقتصادي قدرت د زغملو نه دی.

د ۲۰۲۳ز. کال په پیل سره داسې فکر کېده چې د امریکا متحده ایالاتو او چین اړیکې به عادي حالت ته راشي او سیالي به یو څه غاړې ته شي، ځکه د ۲۰۲۲ز. کال په نومبر میاشت کې د چین جمهور رئیس شي جینپینګ او د امریکا متحده ایالاتو جمهور رئیس جوبایډن ترمنځ د G-20 ناسته کې لیدنه ترسره شوه چې دا ناسته د دوه اړخیزو اړیکو د رغونې لپاره ښه پیل ګڼل کېده او د همدې لیدنې پر بنسټ پریکړه وشوه چې د امریکا متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلینکن به د ۲۰۲۳ز. کال د فبرورۍ په میاشت کې چین ته سفر وکړي، تر څو د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو په رغولو او د جیوپولیټیکي سیالیو په ختګ ته کولو سره


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

خبري وکړي، خو د ۲۰۲۳ز. کال د فبرورۍ میاشتې پر دویمه نېټه د امریکا متحده ایالاتو د دفاع وزارت خبر خپور کړ چې یوه چینایي څارګر بالون د امریکا متحده ایالاتو قلمرو ته داخله شوې او له بېلابېلو سیمو معلومات ټولوي. د فبرورۍ پر ۳یمه نېټه چین وویل دا هوایي بالون د ملکي اهدافو، څېړنو او د هوا حالاتو معلوموملو لپاره تللې ده او هېڅکله یې موخه دا نه ده چې د امریکایي نظامي ځایونو په اړه معلومات راټول کړي. د فبرورۍ پر ۴مه نېټه امریکا متحده ایالاتو دغه بالون وویشته او لمنځه یې یوړ چې د چین د سخت غبرګون سره مخامخ شو.

امریکا متحده ایالاتو د دې پېښې له امله چین ته د انتوني بلېنکن سفر وځنډاوو او پر شپږو چینایي فضایي شرکتونو یې بندیزونه ولګول.[5] له دې پېښې څو ورځې وروسته د امریکا متحده ایالاتو د دفاع وزیر لویډ اسټن غوښتل له چینایي چارواکو سره په دې موضوع خبرې وکړي، خو چینایي چارواکو یې د تلفون اخیستلو او خبرو کولو څخه ډډه کړې چې له امله یې د دواړو هېوادونو سیاسي اړیکې لا پسې خرابې شوې او د دوی ترمنځ سیالۍ نور هم زور واخیست.

په ۲۰۲۳ز. کال په منځني ختیځ کې د چین او امریکا متحده ایالاتو سیالي هم لوړې کچې ته ورسېده. چین غواړي په منځني ختیځ کې په لوړه کچه اقتصادي نفوذ پیداکړي او د همدې موخې لپاره یې په ۲۰۲۳ز. کال کې د اکتوبر په لومړۍ اونۍ کې چین ته د سوریې د مشر بشارالاسد د سفر پرمهال شي جېنپېنګ ورسره د ستراتیژیک پارټنرشپ تړون لاسلیک کړ. د چاینه ارب ټرېډ اکسپو پرمهال د کویټ پاچا او د چین جمهور رئیس شي جېنپنګ ترمنځ د ۲۳٫۴ میلیارده ډالرو سوداګریز تړونونه لاسلیک شول.[6]

په همدې کال کې چین د ایران او سعودي عربستان ترمنځ منځګړیتوب وکړ او دواړه لوریو ترمنځ یې هوکړه لیک لاسلیک کړ او ډیپلوماتیکې اړیکې یې ترمنځ ورغبدې. همدارنګه چین غواړي سعودي عربستان د بریکس غړي کړي او د دې دواړو هېوادونو ترمنځ په چینایي ین د نفتو د پلورلو خبرې هم شوي دي. دا هغه کارونه دي چې چین په ۲۰۲۳ز. کال کې ترسره کړي دي او په مقابل کې امریکا متحده ایالاتو هم د چین د مخنیوي لپاره ځینې اقدامات ترسره کړل چې تر ټولو مهم یې له سعودي عربستان او اسراییلو ترمنځ د نارملایزیشن تړون رامنځته کولو په موخه د دواړو هېوادونو ترمنځ منځګړیتوب دی او د دې تړون له لارې امریکا متحده ایالاتو پر سعودي عربستان ځینې شرطونه ایښې، لومړی دا چې له چین څخه به اقتصادي او امنیتي لرې والی غوره کوې، سعودي عربستان کې به چینایي نظامي اډو ته ځای نه ورکوې، د هووایوې ټکنالوژۍ استعمال به محدودوې او پر چین به نفت پر ډالرو پلورې،[7] چې دا خپله په منځني ختیځ کې د دې دواړو هېوادونو سیالي په ډاګه کوي.

د تایوان قضیه او د اوکراین جګړې په اړه د چین بېطرفي نورې هغه قضیې دي چې په ۲۰۲۳ز. کال کې یې د امریکا متحده ایالاتو او چین اړیکې خرابې او سیالۍ پراخه کړې دي.


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## د اسراییلو او حماس جګړه

د ۲۰۲۳ز. کال بله مهمه پیښه پر ۷م د اکتوبر د حماس له لوري د خپلې خاورې د دفاع په موخه پر اسراییلیانو برید و چې له امله یې د صهیونستي رژیم او فلسطیني دولت ترمنځ جګړه ونښته. په دې جګړه کې اسراییلو د ټولو نړیوالو مقرراتو خلاف د امریکا متحده ایالاتو په ملاتړ د فلسطین په نسل وژنې او د هغوی په اجباري مهاجرت لاس پورې کړ. اسراییلو د جنګ په اړه د ژنیو نړیوال تړونونو هم نقض کړل، ځکه روغتونونه یې بمبار کړل، ملکي ودانۍ یې ویجاړې کړې، امبولانسونه یې بمبار کړل او نږدې ۲۲۰۰۰ ملکیان یې ووژل او ۵۷۰۰۰ یې ټپیان کړل چې دا ټول د دې ښودنه کوي چې اسراییلو په فلسطین کې جنګي جرایم هم ترسره کړي دي.

په دې جګړه کې اسراییلو کیمیاوي وسلې هم کارولې دي چې له یوې خوا یې فلسطین د چاپیریالي ککړتیاوو سره مخامخ کړی او له بلې خوا یې ګڼ امراض رامنځته کړي دي. د ښوونې او روزنې سیستم خراب شوی، د ښوونې او روزنې وزیر ویلي چې په دې جګړه کې ۱۳ میلیونه ډالرو په اندازه د ښوونې او روزنې ساختمانونو او ٦ میلیونه ډالرو په اندازه توکو زیان لیدلی دی.[8] په دې جګړه کې د فلسطین زېربنا لمنځه تللې، خوراکي او طبي موادو قحطي رامنځته شوې او فلسطین په لوړه کچه د اقتصادي ستونزو سره مخامخ شوی دی.

دې جګړې هم پر نړیوال نظام او پر منځنۍ ختیځ سیاسي، امنیتي او اقتصادي اغېزې درلودې.

امنیتي اغېزې یې دا وې چې د سیمې امنیتي حالات ورسره خراب شول، له لبنان نه حزب الله، له یمن نه حوثیانو او له اردن نه خپله قسام حملې وکړې چې په مقابل کې اسراییلو هم ځواب ورکړل چې سیمه ورسره ناامنه شوه. همدارنګه د اسراییلو ځو مزایل په مصر هم لګېدلي چې بیا یې بخښنه غوښتې، په لبنان او سوریه هم اسراییلو حملې کړې او له بل طرف نه په عراق او سوریه کې پر امریکایي اډو باندې هم حملې شوې دي.[9]

سیاسي اغېزې یې دا وې چې ترکیې، بحرین او اردن خپلې اړیکې له اسراییلو سره پرې کړې. د سعودي عربستان او اسراییلو ترمنځ د نارملایزیشن تړون په سر خبرې ودرېدې او کېدای شي تر ډېر وخت پورې دا تړون لاسلیک نشي. د بحرین پارلمان له حکومت وغوښتل چې اسراییلو سره د نارملایزیشن تړون لغوه کړي.[10]

همدارنګه تونس د یو قانون مسوده ترتیب کړې ده چې که هر حکومت د اسراییلو سره د نارملایزیشن تړون لاسلیک کړ هغه به ملي خیانت او جرم ګڼل کېږي.[11]

پر نړیوال نظم یې اغېزې دا دي چې په نړیواله کچه د امریکا متحده ایالاتو حیثیت ته صدمه ورسېده، چین او روسیې له دې جګړې تبلیغاتي استفاده وکړه او پر امریکا متحده ایالاتو یې تبلیغاتي ګذارونه وکړل. په منځنۍ ختیځ کې د چین د نفوذ د مخنیوي هڅې یو څه خنډ سره مخامخ شوې.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

په سیمه کې د ایران موقف لوړ شو او ایران د سعودي عربستان په خلاف له دې جګړې تبلیغاتي ګټه پورته کړه.

د سیمې په اړه د امریکا متحده ایالاتو بهرنی سیاست بدلون وموند، ځکه امریکا متحده ایالاتو غوښتل د نړیوال نظم د مشرۍ د ساتلو په موخه د نورې نړۍ خپله لمنه راټوله کړي او یوازې په انډوپسفیک کې د چین مخنیوی وکړي او په ختیځه اروپا کې د اوکراین د جنګ پرمهال روسیه وځپي، خو د حماس او اسراییلو دې جګړې دوی بېرته اړ کړل چې منځنۍ ختیځ ته په خپل بهرنۍ سیاست کې یو ځل بیا ځانګړی ځای ورکړي.

## د اذربایجان له لوري د ناګورنو قره باغ نیول

د اذربایجان او ارمنستان ترمنځ د قره باغ جګړې تر دېرشو کالو ډېر وخت ونیو، خو په ۲۰۲۳ز. کال کې دا لانجه هم پای ته ورسېده او د سپټمبر په میاشت کې اذربایجان دا جګړه وګټله او پر ناګورنو قره باغ یې بشپړ کنټرول ترلاسه کړ.

د اذربایجان او ارمنستان په دې جګړه کې روسیې د ارمنستان پلوي کوله، خو دا ځل روسیه په اوکراین کې مشغوله وه، نو ځکه یې په دې جګړه کې د ارمنستان پلوي ونکړه او دا د نورو لاملونو ترڅنګ یو مهم لامل شو چې اذربایجان په دې جګړه کې بریا خپله کړه.

دې جګړې هم د سیمې په جیوپولټیکي بدلونونو کې مهم رول درلود، ځکه د جګړې له پای ته رسېدو او د اذربایجان له بریا وروسته په سیمه کې د لویدیځو هېوادونو او ناټو سازمان فعالیتونو ته زمینه برابره شوه. د شوروي اتحاد له ړنګېدو وروسته د جنوبي قفقاز هېوادونه (ګرجستان، ارمنستان او اذربایجان) سره له دې چې پر دې پوهېدل چې په ګاونډ کې یې روسیه لوی ځواک پروت دی او په یو ناڅاپي ډول شونې نه ده چې له نفوذ څخه یې ځان خلاص کړي؛ نو په همدې اساس دوی په تدریجي توګه د روسیې له مدار څخه د وتلو او لویدیځ ته د نږدې کېدو په لور حرکت پیل کړ. له بلې خوا لویدیځو هېوادونو او ناټو سازمان ته د قفقاز سیمې او روسیې ترمنځ ګډې پولې، په سیمه کې د انرژۍ شتون، د مرکزي اسیا له سیمې، ایران او ترکیې سره چې د ناټو غړی هېواد شمېرل کېږي ګډه پوله لرل د دې سبب ګرځېدلی ترڅو د لویدیځو هېوادونو او ناټو سازمان غړو هېوادونو پاملرنه ځان ته را واړوي.

لکه څرنګه چې اوسمهال د روسیې – اوکراین جګړه جریان لري، لویدیځو هېوادونو ته د دې سیمې په ځانګړې توګه اروپا ته د اذربایجان د ګازو صادرات ډېر اهمیت لري؛ له بلې خوا په سیمه کې د لویدیځو هېوادونو ښکیلتیا د روسیې ګټې محدودوي او په دې برخه کې د فشار الې په توګه له دې سیمې څخه ګټه پورته کوي او هم کولای شي چې له دې سیمې څخه د ایران پر وړاندې چې د لویدیځو هېوادونو او ناټو سازمان سره ښې اړیکې نه لري؛ ګټه پورته کړي. داچې دواړه لوري ( لویدیځ هېوادونه او د جنوبي قفقاز هېوادونه) یو له

بل سره د نږدې کېدو لپاره هلې ځلې کوي او له بلې خوا روسیه اوسمهال له اوکراین سره په جګړه کې ښکیله ده او نه غواړي چې په دوه جبهو کې بوخته شي؛ نو ځکه لویدیځو هېوادونو ته ښه زمینه مساعده شوې ترڅو په دې سیمه کې خپل نفوذ لا پراخ کړي.[12] همدرانګه د اذربایجان دغه بریا به په سیمه کې د ترکیې نفوذ هم لوړ کړي.

## د بشري حقوقو نقض

۲۰۲۳ز. کال د بشري حقوقو په برخه کې تر ټولو خونړی کال و. په اوکراین کې د دغه کال په هره میاشت کې په اوسط ډول د کوچنیانو او ښځو په ګډون ۱۷۰ ملکیان وژل شوي او ټپیان شوي دي.[13]

په دې کال کې د صهیونستي اشغالګر رژیم له خوا ۲۲۰۰۰ فلسطینیان شهیدان کړل شوي او نږدې ۵۷۰۰۰ ټپیان شوي دي چې اکثره یې کوچنیان او ښځې دي. په دې جګړه کې اسراییلو (White Phosphorous) بمونه هم استعمال کړل چې په نړیواله سطحه یې استعمال منعه دی.[14] په دې جګړه کې نږدې ۱۱۰ ژورنالیستان وژل شوي دي چې د هغوی خوندیتوب په نړیواله سطحه منل شوی دی. د اشغالګر رژیم له لوري په غزه کې اجباري مهاجرتونه رامنځته شوي دي چې د نړیوالو بشري حقوقو خلاف عمل دی.

همدارنګه په امریکا متحده ایالاتو او اروپا کې په لوړه کچه هغه لاریون کوونکي وځپل شول او له لاریون منعه شول چې د فلسطین په حمایت کې یې لاریونونه کول. لاریون په نړیواله کچه د بشري حقوقو بنسټیز حق ګڼل کېږي، خو د بشري حقوقو همدوی دعوه دارانو په لوړه کچه په ډېره سپین سترګی نقض کړل.

د دې ترڅنګ د ارمنستان او اذربایجان په جګړه کې، د سعودي عربستان او یمن پر پولو، روندا او نیپال کې، ایران او سوریه کې او د نړی په نورو بېلابېلو برخه کې د بشري حقوقو د نقض قضیې ثبت شوي دي.

افغانستان هم یو له هغو هېوادونو دی چې په ۲۰۲۳ز. کال کې د بشري حقوقو په نقض تورن دی. له شپږم ټولګي پورته د نجونو د تعلیم او په پوهنتونونو کې د تحصیل مخنیوی او نجونې کار ته نه پرېښودل هغه ځانګړي موضوعات دي چې د بشري حقوقو نقض ګڼل کېږي.

## د پاکستان له لوري د افغان کډوالو په زوره ویستل

د پاکستان حکومت د معلوماتو پر بنسټ په دغه هېواد کې ۴ میلیونه افغان کډوال اوسېږي چې له ډلې یې ۲,۳ میلیونه کډوال د حکومت له خوا تایید شوي اسناد لري او پاتې ۱,۷ میلیونه کډوال اسناد نه لري او ناقانونه اوسېږي. ۲۰۲۳ز. کال د اکتوبر پر درېیمه نېټه پاکستان حکومت اعلان وکړ چې ټول ناقانونه افغان کډوال به د اکتوبر میاشتې تر پای پورې خپل هېواد ته ستنوي.[15] په ۲۰۲۳ز. کال د جولای په میاشت



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

کې د مهاجرينو نړيوالې کمېټې د يو راپور پر بنسټ په ۲۰۲۱ز. کال کې د اسلامي امارت د بيا واکمنۍ راهيسې له شپږ سوه زرو زيات افغانان پاکستان ته کډوال شوي چې ټول يې بې اسنادو دي.[16] د اسلامي امارت وياند ذبيح الله مجاهد په وينا نږدې يو نيمه مياشت کې يعنې د نومبر مياشتې تر شلمې نېټې پورې څلور سوه زره افغان کډوال د تورخم او سپين بولدک له لارې بېرته خپل هېواد ته راستانه شوي دي.[17]

په زوره د افغان کډوالو د ويستلو تر شا ډېر لاملونه دي چې يو يې هم په پاکستان کې د تاوتريخوالي زياتېدل ښودل کېږي، پاکستان حکومت وايي چې د ناقانونه افغان کډوالو په زياتېدو سره په پاکستان کې د تاوتريخوالي پېښې زياتې شوي دي او له همدې امله بايد ناقانونه افغان کډوال له پاکستان څخه وويستل شي تر څو د پاکستان امنيتي وضعيت بېرته عادي شي. د پاکستاني چارواکو په وينا يوازې په ۲۰۲۳ز. کال کې ۲۴ ځانمرګي بريدونه شوي چې په ۱۴ بريدونو کې يې افغان تابعيت لرونکي دخيل وو. د جنوبي اسيا د تروريزم بنسټ وايي: په ۲۰۲۳ز. کال په پاکستان کې ۴۱۸ بريدونه شوي دي چې دا شمېره په ۲۰۲۲ز. کال کې ۳۶۵ وه[18] چې پاکستاني چارواکي د بريدونو د زياتوالي يو لامل په پاکستان کې ناقانونه افغان کډوال ګڼي او له همدې امله دوي افغان کډوال له خپلې خاورې په زوره شړي.

دويم لامل يې دا دی تر څو پر اسلامي امارت فشار راوړي تر څو د تحريک طالبان پاکستان پر خلاف په داخل د افغانستان کې عمليات وکړي او يا هم د هغوی سره د اړيکو له لارې هغوی پاکستاني حکومت سره خبرو ته کېنوي. موږ مخکې يادونه وکړه چې پاکستان حکومت اسلامي امارت تورنوي چې دوی په افغانستان کې تحريک طالبان غړو ته پناه ورکړې[19]، دا چې اسلامي امارت دغه تورونه رد کړي او په پاکستان کې د تحريک طالبان سره همکاري هم ردوي، نو پاکستان حکومت غواړي د مهاجرينو د شړلو له لارې اسلامي امارت تر فشار لاندې راولي تر څو هغوی د تحريک طالبان پاکستان په اړه له پاکستان حکومت سره همکاري وکړي. [20]

په ۲۰۲۳ز. کال کې دا پېښه که څه هم له يوې خوا د نړيوالو بشري حقوقو نقض ګڼل کېږي، خو له بلې خوا د پاکستان او اسلامي امارت په اړيکو يې منفي اغېز کړی او د دواړو هېوادونو دوه اړخيزې اړيکې ورسره خرابې شوي دي.

## د ملګرو ملتونو ناکامي

د ملګرو ملتونو منشور د بين المللي حقوقو تر ټولو مهمه سرچينه ګڼل کېږي. د دغه سازمان له لوري د بشري حقوقو او د دولتونو ترمنځ خپلمنځي اړيکو د تنظيم په موخه بېلابېلې ادارې او کنوانسيونونه رامنځته شوي دي، خو دا چې د بين المللي حقوقو تطبيقي اړخ يوازې اخلاقي جنبه لري او اجباري اړخ يې کمزوری دی دا له پخوا څرګنده او معلومه وه، خو په ۲۰۲۳ز. کال کې د ملګرو ملتونو ناکامي او ضعف په لوړه کچه څرګند شو او حيثيت ته يې سخته صدمه ورسېده.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

په دغه کال کې ملګرو ملتونه ونه توانېدل چې د اوکراین او روسیې جنګ ته حللاره پېداکړي، د فلسطین او اسراییلو د جګړې په اړه حتی خپلې پریکړې او پرېکړه لیکونه تطبیق کړي. د چین او روسیې پریکړه لیکونه امریکا متحده ایالاتو ویټو کول او د امریکا متحده ایالاتو پریکړه لیکونه چین او روسیې ویټو کړل، خو کله چې خبره عمومي اسمبلې ته راغله معلومه شوه چې د نړۍ ۱۵۶ څخه زیات هېوادونه د اسراییلو د بریدونو مخالف او د اوربند غوښتونکي دي، خو ملګرو ملتونو ونه توانېدل چې د عمومي اسمبلې دغه پرېکړه پر اسراییلو تطبیق کړي.

ملګرو ملتونه تراوسه نه دي توانېدلي چې د افغانستان ستونزو ته د حل لاره پېداکړي او د تعامل لپاره یو چوکاټ رامنځته کړي. دغه سازمان ونه توانېده چې په دغه کال کې د اجباري مهاجرینو مخنیوی وکړي او غړي دولتونه مجبور کړي چې دا کار ونکړي.

## پایله

۲۰۲۳ز. کال کې په نړیواله کچه د سیاسي، امنیتي او اقتصادي ستونزو او بدلونونو د رامنځته کېدو تر ټولو مهم کال و. په دغه کال کې د اوکراین او روسیې جګړې لا زور واخیست، د فلسطین پر مظلوم ولس ظلم وروستي حد ته ورسېده، اذربایجان ناګورنو قره باغ ترلاسه کړ، د منځني ختیځ په اړه د امریکا متحده ایالاتو بهرنۍ پالیسي بدله شوه، د عربي هېوادونو بې کیفیایتي، غلامي او بې وسي لا په ډاګه شوه، د امریکا متحده ایالاتو حیثیت د بشري حقوقو د نقض او د اسراییلو د ملاتړ له امله په نړیواله کچه سخت خراب او اصلي څېره یې په ډاګه شوه، په افغانستان کې د اسلامي امارت تر مشرۍ لاندې اقتصادي پرمختګونه رامنځته، خو د نجونو د تعلیم قضیه هماغسې مبهمه پاتې شوه، د اسلامي امارت سیمې ییزې اړیکې پیاوړې، خو له پاکستان سره یې په ځینو مسایلو او په ځانګړې ډول د اجباري مهاجرینو پر سر اړیکې یو څه خرابې شو. د منځني ختیځ معادلې یو څه بدلې شوې او دې ټولو پېښو د نړیوال نظم بدلون طرف ته په چټکې د ګامونو اخیستل اسانه کړل او لرې نه ده چې د امریکا متحده ایالاتو باداري پای ته ورسېږي.

## وړاندیزونه

۱- اسلامي امارت دې نړیوالو بدلونونو ته جدي پاملرنه وکړي او دغو بدلونو ته په کتو دې نړۍ سره تعامل وکړي.

۲- اسلامي امارت دې نړیوالې او سیمې ییزې اړیکې د نړۍ جیوپولټیکي بدلونونو او د نړیوال نظم د بدلونونو ته په کتو ټینګې کړي.

۳- د نجونو د تعلیم قضیه له یوې خوا خپله هېواد ته بنسټیزه قضیه ده او له بلې خوا د نړیوال تعامل او نویو بدلونونو سره د ځان عیارولو لپاره مهمه ده، نو اسلامي امارت دې هڅه وکړي چې د نجونو پرمخ دې د ښوونځیو دروازې پرانیزي.

## مأخذونه

[1] Carme Colomina, The world in 2023: ten issues that will shape the international agenda, CIDOB, Dec 2022, Access link: https://www.cidob.org/en/publications/publication_series/notes_internacionals/283/the_world_in_2023_ten_issues_that_will_shape_the_international_agenda#:~:text=In%202023%2C%20limits%2C%20both%20individual,to%20respond%20to%20it%20all.

[2] Nato, Enlargement and Article 10, 3 Aug 2023, Access link: https://www.nato.int/cps/en/natohq/topics_49212.htm

[3] Ibid.

[4] Ana Swanson, The Contentious U.S.-China Relationship, by the Numbers, New York Times, July 2023, Access link: https://www.nytimes.com/2023/07/07/business/economy/us-china-relationship-facts.html

[5] Emily Feng and Lexie Schapitl, How a Chinese 'spy balloon' prompted the U.S. to scour the skies, NPR, Feb 14 2023, Access link: https://www.npr.org/2023/02/14/1156731462/china-spy-balloon-timeline-key-dates#:~:text=The%20balloon's%20appearance%20earlier%20this,enough%20or%20providing%20enough%20transparency.

[6] Lucy Kurtzer-Ellenbogen; Ambassador Hesham Youssef; Robert Barron and Adam Gallagher. Is a Saudi-Israel Normalization Agreement on the Horizon? United States Institute of Peace, September 28, 2023, Access link: https://www.usip.org/publications/2023/09/saudi-israel-normalization-agreement-horizon

[7] Lucy Kurtzer-Ellenbogen; Ambassador Hesham Youssef; Robert Barron and Adam Gallagher. Is a Saudi-Israel Normalization Agreement on the Horizon? United States Institute of Peace, September 28, 2023, Access link: https://www.usip.org/publications/2023/09/saudi-israel-normalization-agreement-horizon

[8] Asmaa Abushabab, The Disaster of Palestine, ADPC, Access link: https://www.adpc.net/igo/contents/iPrepare/iprepare-news_id.asp?ipid=234

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

9 DOUG G. WARE, Attacks against US troops in Iraq, Syria rise to 23, Pentagon says, Stars and Stripes, October 30, 2023, Access link: https://www.stripes.com/theaters/middle_east/2023-10-30/american-forces-drones-rockets-iraq-syria-iran-11880249.html

10 Middle East Monitor, Bahrain parliament pushes to reverse normalisation with Israel, November 8, 2023. Access link: https://www.middleeastmonitor.com/20231108-bahrain-parliament-pushes-to-reverse-normalisation-with-israel/

11 Aljazeera, Tunisia debates bill to criminalise normalisation of ties with Israel, 2 Nov 2023, Access link: https://www.aljazeera.com/news/2023/11/2/tunisias-parliament-deliberates-on-anti-israel-normalisation-bill

12 عبدالخالق فردوس، د قره باغ په شخړه کې د اذربایجان بریا او د ایران اندېښنې، سیمه ییز مطالعات ژورنال.

13 United Nations Human rights office of the High Commissioner, Total Civilian Causalities, 25 Sep 2023, Access link: https://www.ohchr.org/en/news/2023/09/ukraine-civilian-casualty-update-24-september-2023

14 Aljazeera, Israel maintains onslaught as Gaza death toll tops 22,000, 2 Jan 2024, Access link: https://www.aljazeera.com/amp/news/2024/1/2/israeli-bombardment-ongoing-as-death-toll-surpasses-22000

15 Abid Hussain, ‘Why am I being sent back?’ Hurt, anger for Afghans pushed out by Pakistan, Aljazeera, 3 Nov, 2023, Access link: https://www.aljazeera.com/features/2023/11/3/why-am-i-being-sent-back-hurt-anger-for-afghans-pushed-out-by-pakistan

16 Abid Hussain, Why is Pakistan planning to deport undocumented Afghans?, Aljazeera, 6 OCT, 2023, Access link: https://www.aljazeera.com/news/2023/10/6/why-is-pakistan-deporting-undocumented-afghans

17 MUNIR AHMED, more than 400,000 Afghans have returned home from Pakistan following crackdown on migrants, The Associated Press, 20 NOV, 2023, Access link: https://apnews.com/article/pakistan-afghanistan-migrat-crackdown-df89dc612fcf8ee9aa138414ff2034ec

18 Sneha Swaminathan, Explained | Why is Pakistan asking 1.7 million Afghan nationals to leave its territory?, WIONEWS, 2 NOV, 2023, Access link: https://www.wionews.com/south-asia/explained-why-is-pakistan-asking-17-million-afghan-nationals-to-leave-its-territory-654025.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

19 Arsalan Bilal, Pakistan and the Afghan Taliban: Friends Becoming Foes, THE DIPLOMAT, April 28, 2023, Access link: https://thediplomat.com/2023/04/pakistan-and-the-afghan-taliban-friends-becoming-foes/

[20] Sneha Swaminathan, Explained | Why is Pakistan asking 1.7 million Afghan nationals to leave its territory? Op. Cit.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو د ارزونې او بډاينې لپاره فعاليت کوي.

**اړيکه:**

ايميل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمېره: +93780618000 +93780618000